د تخار پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګې

# پنځه کـــلن استراتیژیک پلان

## ۱٤۰۲ تر ۱٤۰٦ ل.ل

اوډونه : د پښتو څانګې د پلان جوړونې کمېټه

کال ۱۴۰۲ ل.ل

# لیکلړ

**سریزه** .......... ۵

## لومړی څپرکی

## دپښتوځانگې تاریخچه او اوسنی وضعیت


۱- دمحصلانو په اړه .......... ٦

۳- داستادانو په اړه .......... ۷

۱-۴ تجهیزات او موجوده امکانات .......... ۸

۱-۵ علمي څېړنې اومطالعات .......... ۸

۱-٦ په تېر تطبیقي پلان کې د موفقیت او نه موفقیت لاملونه .......... ۸

۱-۱-٦ د موفقیت عوامل .......... ۸

۱-۲-٦ نه موفقیت عوامل .......... ۹


## دوهم څپرکی

## لیدلوری، ماموریت، اهداف او ارزښتونه


لیدلوری .......... ۱۰

ماموریت .......... ۱۰

ارزښتونه .......... ۱۰

اهداف .......... ۱۱

۱- په تدریسي بهیرکې له نوې زده کړییزې تکنالوژی استفاده .......... ۱۱

۲. OBE او SCL دتدریسي مېتودونو تقویت .......... ۱۱

۲- علمي څېړنو په اړه .......... ۱۱

۳- مالي، اداري عوایدو د ترلاسه کولوپه اړه .......... ۱۱

۴- علمي برنامو په اړه .......... ۱۱

فعالیتونه .......... ۱۲

دځانگې ټولنیزرول په اړه .......... ۱۳

دځانگې نړیوال رول اړه .......... ۱٤


## دریم څپرکی

## پرمختگ، لومړیتوب او دمحیطي عواملو تحلیل


لومړی شاخه – تدریس بهیر ته بشپړه پاملرنه .......... ۱۵

دتدریس په اړه دقوت ټکي .......... ۱۵

د تدریس په پروسه کې دضعف ټکي .......... ۱۵

دوهمه شاخه – څېړنیز بهیر ته بشپړه پاملرنه .......... ۱٦

دڅېړنې په اړه دقوت ټکي .......... ۱٦

دځېړنې په اړه دضعف کې ........................................ ١٦
پالیسي ........................................ ١٧
دعلمي کادرونودغړو پالیسي ........................................ ١٧
دځانګې دفزیکي فضا په اړه پالیسي ........................................ ١٧
دځېړنیزې غوښتنې پالیسي ........................................ ١٧
دتدریسي فعالیتونودنوښت پالیسي ........................................ ١٨
دمحصلینو لپاره دښې روحي دغوره کول پالیسي ........................................ ١٨
دپوهې دپرمختګ پالیسي ........................................ ١٨
تضمین او کیفیت دمیکانیزم پالیسي ........................................ ١٨
فرصتونه ........................................ ١٨
تحصیل په اړه ........................................ ١٨
دځېړنې په اړه ........................................ ١٩
محدویتونه ........................................ ١٩
تحصیل په پروسه کې محدویتونه ........................................ ١٩
دځېړنې په کې پروسه محدویتونه ........................................ ١٩
۵-۳ د SWOT په مېتود سره دمحیطي عواملو تحلیل ........................................ ١٩
**دتحصیل په اړه دیوې قوي روحیې ایجادول** ........................................ ٢٠
ماتریکس عواملو تحلیل او د پرمختګ د موقعیت تعیین ........................................ ٢٢
۶-۳ لوموړیتوبونه ........................................ ٢٢
۱-۶-۳ د اکاډمیک او زده کړییزو چارو له نظام څخه بشپړ ملاتړ ........................................ ٢٢
۶-۳ ۲ تر لاس لاندې پرمختیایي برنامې ........................................ ٢٢
۲- دیو ه زینتي پارک جوړول ........................................ ٢٢
۳-۶-۳ لوړو زده کړو ته زمینه برابرول ........................................ ٢٣
۱-۶-۳ په ښه حکومتولۍ کې ونډه اخیستل ........................................ ٢٣
۱۰- د لوا یحو او قوانینو تطبیق ........................................ ٢٣
۱۱- د شفافیت تطبیق ........................................ ٢٣

## خلورم څپرکی

## پرمختګونه

۱-٤ په تدریسي بهیرکې له نوې تکنالوژۍ څخه استفاده ........................................ ٢٤
۱-۱-۴ داستادانو د ظرفیت لوړوالی ........................................ ٢٤
۲-۱-۴ تدریس او ارزونه ........................................ ٢٤
۳-۱-۴ په تدریسي بهیرکې له نوې تکنالوژۍ څخه استفاده ........................................ ٢٤
-۳-۱-۴ ورکشاپونه دایرول ........................................ ٢٤

٤-٣ مالي او اداري پرمختگونه ........ ٢٤
٤-٤ له فساد سره مبارزه ........ ٢٥
- دمحصلانو لپاره کار موندنه ........ ٢٥
- ارتقای مهارت محصلان ........ ٢٥
- د محصلانو فرهنگي او سپورتي فعالیتونه ........ ٢٥
٤-٦ د عوایدو ترلاسه کول (کسب عواید) ........ ٢٥
د خطرونو او پېښو مدیریت ........ ٢٦

## پېنځم څپرکی

## اهداف او لنډ مهاله برنامې

۵-۱ د استادانو د ارتقاء او ظرفیت ........ ٢٧
۵-۳ د کتابتون تجهیز ........ ٢٧
۵-۴ دمحصلانو لپاره اونیز بهیر جوړول ........ ٢٧

## شپږڅپرکی

## دځانګې اداري پرمختګ

په علمي ډګر کې ........ ٢٨
په اداري ډګر کې ........ ٢٨
په خدماتي ډګر کې ........ ٢٨
دژبو اوادبیاتو دپوهنځي دپښتوځانګې د راتکونکو پنځوکلونو تشکیل ........ ٢٨

## اوم څپرکی

## د استراتیژیک پلان ارزونه، نظارت،تطبیق او تدوین مېتود

پایه ........ ٣٠
منابع ........ ١
ضمایم ........ ١

**سریزه**

دتخارپوهنتون دژبواوادبیاتودپوهنځي په چوکاټ کې پښتوڅانگې له ۱۳۸۵ لمریزکال راپه دې خوا خپله علمي فعالیتونه پیل کړل، چې لږترلږه یې داولسوکلونوپه لړکې یارلس دورې محصلین فارغ کړی، چې گران دهیواد افغانستان په بېلابېلوبرخوکې دخدمت جوگه دي .دنوموړي څانگې فارغ شوي نارینه اوښځینه محصلین دهیوادپه کچه په گڼودولتي دندو لکه راديويې خپرونې، تلويزيوني خپرونې، مجلې.ورځپاڼې، په ښوونځیوکې دښوونکوپه حیث په دنده بوخت دي.ددې ترڅنگ دښوونې اوروزنې په برخه کې په زړه پورې لاسته راوړنې هم لري. دپورته ذکرشوې څانگې علمي کادرونه ترخپلې وسې دهیواد دبچیانوپه روزنه کې خپل ځانونه مسول گڼي
پښتوڅانگې کابو د یوې نیمې لسیزې ماموریت په پایله په سلگونو محصلین روزلی، او دټولنې په انکشاف اوپرمختگ کې یې خپل رول رغنده لوبولی دی. ددې څانگې فارغین دتدریسي بهیر ترڅنگ دملي فکراوتحصیلي بنستونو دپرمختگ لپاره په گڼو دولتي او غیردولتي دندو گمارل شوي دي.

## لومړی څپرکی

## دپښتوځانګې تاریخچه او اوسنی وضعیت

نوې زده کړې دهر هیواد دپراختیاء اړتیا ده، دټولنې وګړي اړ دي څو په دیني اوعصري علوموخپل ځان سمبال کړي دا علاقه باید د وګړو ترمنځ زړه نه شي. د ۱۳۸۰ لمریز کال انتقالي حکومت دلوړو زده کړود وزارت دعلمي پالیسۍ له مخې وپتیله څو دتاریخي افغانستان په ټولو ولایتونو کې پوهنیز مرکزونه ایجاد کړي، چې وخت د حکومت لپاره ستره لاسته راوړنه حساب شوه. دهیواد شمالي ولایتونه .هم ددې سترې بریاء شاهد شول.

دلرغوني آریانا د رسمي ژبې ویونکي د خپلې فطري مینې او دلچسپۍ په مؤخه مجبور شول څو په ټولو شمالي ولایتونو کې دپښتوادبیاتو علمي مرکزونه فعال کړي. دا سترګام د هیواد په تاریخ کې باید په زرینو کرښو ولیکل شي.


له شکه پرته دتخار پوهنتون په چوکاټ کې دپښتوادبیاتو دایجادولو لومړی انګیزه ددې ځانګې له مشر استاد پوهنوال سیدعمرصدیقي سره پیدا شوه، ټولې علمي او اداري چارې یې د وزارت ترکچې دهمدې قدرمن استاد سیدعمرصدیقي په مرسته تر سره شوې دهیواد په کچې ددې ستر ویاړ مبارکي دنوموړي علمي کورنۍ ته ډالۍ .

۱- دمحصلانو په اړه

| دپښتو ځانګې فارغ شوو محصلانو جدول | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳- دوري | | | | | | | | | | | | | |
| دوره | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 |
| نارینه | 5 | 9 | 13 | 6 | 8 | 26 | 17 | 14 | 43 | 22 | 28 | 34 | 30 |
| ښځینه | 2 | 1 | ٠ | 3 | ٠ | ٠ | 5 | 3 | 15 | 18 | 7 | 16 | 27 |
| مجموعه | 7 | 10 | 13 | 9 | 8 | 26 | 22 | 17 | 58 | 40 | 35 | 50 | 57 |

۱۳۹۷ - ۱۴۰۱ کال پورې د نارینه او ښځینه محصلانو جدول.

| | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|
| ذکور | 43 | 22 | 28 | 34 | 30 |
| اناث | 15 | 18 | 7 | 16 | 27 |
| مجموعه | 58 | 40 | 35 | 50 | 57 |




### ۳- داستادانو په اړه

لوړو زده کړو له اصولو سره د تقرر او انفکاک پروسه په پوره شفافیت سره د ازموینې له لارې ترسره کیږي، ترپایلې وروسته استاد اکاډمیک چاپیریال ته ور پیژندل کیږي.

**دژبو او ادبیاتو دپوهنځي دپښتوځانګې داستادانو د تحصیلي درجو جدول-** ۱۳۹۷ -۱۴۰۱ ل.ل

| کال | لیسانس | ماستر | دوکتورا | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۷ | ۲ | ۶ | ۰ | ۸ |
| ۱۳۹۸ | ۰ | ۶ | ۰ | ۸ |
| ۱۳۹۹ | ۰ | ۶ | ۰ | ۸ |
| ۱۴۰۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۷ |
| ۱۴۰۱ | ۰ | ۵ | ۰ | ۷ |

**دڅېړنو او ادبیاتو پوهنځي دپښتو څانګې داستادانو دعلمي رتبو جدول- ۱۳۹۷- ۱۴۰۱ ل.ل**

| کال | نامزدپوهیالی | پوهیالی | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۷ | ۰ | ۲ | ۳ | ۲ | ۰ | ۱ | ۰ | ۸ |
| ۱۳۹۸ | ۰ | ۰ | ۴ | ۱ | ۲ | ۱ | ۰ | ۸ |
| ۱۳۹۹ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۷ |
| ۱۴۰۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۷ |
| ۱۴۰۱ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۷ |

### ۱-۴ تجهیزات او موجوده امکانات

- ✓ د یوه مستقل کتابتون موجودیت
- ✓ یوازې استادانولپاره د اړتیاء وړ انترنیټ؛
- ✓ دمحصلانو لپاره د درسي ټولګیو شتون ؛
- ✓ په کافي کچې دمحصلانو لپاره دمېز او چوکۍ شتون
- ✓ په محدودو ټولګیو کې د LCD؛شتون

### ۱-۵ علمي څېړني اومطالعات

دژبواوادبیاتو دپوهنځي په چوکاټ کې پښتو څانګې د تدریسي چارو ترڅنګ په څېړنیزه برخه کې هم علمي او څېړنیزفعالیتونه ګړندي ساتلي دي . ټول استادان یې د پوره علمي آثارو لرونکي دي . کابو د یوې نیمې لیسزې په تیریدو سره یې ډیر څېړنیز، تالیفي آثار په ملي او نړیواله کچه خپاره کړي دي.
ددې څانګې استادان ژمن دي چې نورې علمي څېړنې هم د هیواد په ګڼو علمي ژورنالونو کې خپرې کړي.اوسمهال هم ډېره سلنه علمي آثار یې په درسي او ممد درسي توګه  مطالعه کیږي.

### ۱-۶ په تېر تطبیقي پلان کې د موفقیت او نه موفقیت  لاملونه

#### ۱-۶-۱ د موفقیت عوامل

دپښتو څانګې په تېراستراتیژیک پلان کې چې کوم اهداف او فعالیتونه په نښه شوي و له نیکه مرغه دعملیاتي، تطبیقي، پیاوړتیا، مسیریابي او نورو پلانونو او لارو په وسیله سره ترسره شول چې د برياء اساسي برخې یې دادي.

- ښه مدیریت او فعاله رهبري.
- دڅانګې د آمر او استادانو ترمنځ دلازمي هماهنګی موجودیت
- وجود محیط مناسب دتحصیلي او مناسب چاپیریال موجودیت
- د اداري او تدریسي دفترموجودیت
- په څانګه کې د متخصص او ماستراستادانو موجودي

**۱-٦-۲ نه موفقیت عوامل**

دپښتو ځانګې په تېراستراتیژیک پلان کې چې کوم اهداف او فعالیتونه په نښه شوي د نه تطبیق لاملونه يې دادي .

- دځانګې په کچه دنظارت د کمېټې نه شتون
- له تېراستراتیژیک پلان څخه د استادانو او محصلانو ناخبري
- جګړه او ناامني
- دکرونا ویروس راتګ
- له تطبیقي پلان څخه نه نظارت

## دوهم څپرکی

## لیدلوری، ماموریت، اهداف او ارزښتونه

**لیدلوری**

دژبواوادبیاتودپوهنځي پښتوځانګه دپښتوادبیاتو پرمختګ خپله دنده ګڼي اومکلفه ده، څوداړوندادبیاتودپرمختګ اوانکشاف له پاره بېلابېل لارې اوچارې ولټوي.

**ماموریت**

دژبواوادبیاتودپوهنځي دپښتوځانګې ټول علمي غړي په ګډه سلااومشوره سره درسي کیفیت او څېړنیزو لارو اومیتودونودغوره کولو له پاره وخت په وخت ناستې کړې، اودڅېړنیزو پروژوله پاره یې بنسټیزګامونه پورته کړي دي اومحصلینوپه نویوروحیوسره دڅېړنیزکارله پاره چمتوکړی دي .

دټولنې پرمختګ، دعلمي بنسټونو فعال ساتل، دتدریسي بهیر انکشاف، ددرسي نصاب د تطبیق لپاره نوي ګامونه اوچتول ددې ځانګې له ماموریت څخه ګڼل کیږي

**ارزښتونه**

۱- دژبواوادبیاتودپوهنځي ځانګه دلوړو زده کړو دوزارت دتولواکاډمیکو، علمي اومنلوشویو اصول اوقوانینوتابع ده، ترڅنګ یې نوراسلامي ارزښتونه هم په پوره امانتدارۍ سره دخپلو محصلینوپه حضورکې پلي اوعملي کړي دي .کاري اصول اوقوانین یې هم په مناسب وخت سره ترتیب او ترسره کړي دي .

۱- دپښتوځانګې استادان ژمن دي چې کاري اصول پرځان عملي کړي، له اسلامي ارزښتونو سرغړونه لوی جرم ګڼي او نه تطبیق په صورت کې یې مبارزې ته چمتو دي.

۳-اسلامي اصولو اومقدساتو ته پوره درناوی.

۴-د عدالت او انصاف پالیسۍ په ځان عملي کول.

۵-له تعصب او تبعیض څخه ډډه کول.

پښتوځانګه په راتلونکي پنځه کلن استراتیژیک پلان کې لاندې کاورنه ترلاس لاندې لري

- ✓ دتخصصي پوهې لپاره پوره ژمنتیا او چټک ګامونه اخیستل.
- ✓ ددرسي بهیر پرمهال پوره تعهد او مسوولیت منل .
- ✓ په تدریسي او څېړنیزو چارو کې نوښت او ابتکار.
- ✓ په ټولو علمي او تدریسي چاروکې کیفیت راوستل .
- ✓ په واحد نظر او ګډه روحیه سره دعلمي کارونو لپاره طرحې جوړول.
- ✓ داستادانو او محصلینوترمنځ دمتقابل درناوي له پاره ټینګار.

**اهداف**

دژبواوادبیاتودپوهنځي پښتوڅانګې آمریت راتلونکو پنځوکلونوپه اوږدوکې لاندې اړین اهداف په پلان کې لري.

## ۱- په تدریسي بهیرکې له نوې زده کړییزې تکنالوژی استفاده

- ✓ د P- H- D برنامې ته دپښتو څانګې د استادانو معرفي کېدل.
- ✓ په درسي بهیرکې له نوې تکنالوژي څخه استفاده کول.
- ✓ دنوي درسي نصاب عملي کول، دهرمضمون دکریدیټونودواحدونوپوره کول.
- ✓ دهرمضمون لپاره ددرسي نصاب مطابق نوي محتویات پیداکول.
- ✓ په درسي مفرداتوکې اړین بدلون راوستل .

## ✓ ۲. OBE او SCL دتدریسي مېتودونو تقویت

دژبو اوادبیاتو دپوهنځي پښتوڅانګې استادان ژمن دي چې په راتلونکي پنځو کلونوکې خپل درسي بهیر پرOBE او SCL سیستم سره برابر کړي ، مونږ به په دغه لار کې لازمې تجربې او مېتودونه له ګرانو محصلانو سره شریک کړو، څکه دوخت تجاربو ثابته کړه چې دمحصل محوری مېتود د اوسمهال محصلانو لپاره ګټور پریوزي.

## ۲- علمي څېړنو په اړه

- ✓ دڅانګې په کچه دیوه څېړنیز مرکز ایجادول او له هغه څخه ملاتړ.
- ✓ دڅانګې په کچه دیوې اونیزیا میاشتنۍ او یا هم کلنۍ مجلې ایجادول.
- ✓ دڅانګې له فیسبوک پاڼې څخه دعلمي مطالبو خپرولو.
- ✓ د استادانو دعلمي تالیفي آثارو چاپ او نشرول.
- ✓ دژباړې د یوه مرکز ایجادول
- ✓ دپښتو ژبې دکورسونه جوړول.

## ۳- مالي، اداري عوایدو د ترلاسه کولوپه اړه

- ✓ دسمستروار اوکلنۍ فعالیتونو راپور له پوهنځي شریکول ؛
- ✓ دڅانګې په کچه د عایداتي برنامې فعالول لکه دژباړې له مرکزڅه نا څه عاید تر لاسه کول،
- ✓ دپښتو ژبې دکورسونو لارې څه ناڅه عاید ترلاسه کول.
- ✓ په کتابتون کې دمحصلانو دمطالعې له لارې یوه کم سلنه عاید ترلاسه کول.
- ✓ څانګې له لارې دستاینلیک د توزیع او چاپ له لارې څه نا څه عاید ترلاسه کول.

## ۴- علمي برنامو په اړه

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتوڅانګه په راتلونکي پنځو کلونو(۱۴۰۲-۱۴۰۶) کې لاندې علمي برنامې تر لاس لاندې لري

- ✓ دڅانګې په کچه د ژبپوهنې د برخې تقویت .
- ✓ دڅانګې په کچه د ادبپوهنې د برخې تقویت .
- ✓ دڅانګې په کچه دژباړې د برخې تقویت .
- ✓ دلوړو زده کړو له لوري دمنظورشوي درسي نصاب دپالیسۍ تطبیقول .

- ✓ دمحصلینواواستادانوترمنځ دښېړنې د روحیې ایجادول.
- ✓ د تعلیمي کال په اوږدو کې دځلورم ټولګي لپاره د پروپوزل لیکنې ورکشاپ ورکول.
- ✓ دځانګې دمحصیلنولپاره دمقالې، داستان، رومان، ناول، ادبي ټوټې اونوروادبي ژانرونودلیکلولارې په ګوته کول .
- ✓ دمحصلینوته دمونوګراف لیکنې معیاري لار په نښه کول.
- ✓ دتحقیقي پروژو لپاره مناسب پلان جوړول.
- ✓ دعلمي مقالو او سیمینارو لپاره منظمه طرحه جوړول.
- ✓ دټولو پلانونو لپاره دنظارت کمېټه جوړول.
- ✓ په ملي کچه دځانګې دعلمي فعالیتونو معرفي کول .
- ✓ داستادانو تحصیلي درجې په موخه له اړوندو ادارو سره نظر شریکول.
- ✓ په دوو لویو برخوکې دځانګې علمي پرمختګ
- ✓ ادبپوهنې په برخه کې
- ✓ ژبپوهنې په کې .
- ✓ دهرتعلیمي کال په اوږو کې داستادانو له خوا دیوه علمي سیمینار ارایه کول.
- ✓ یوه مجهز کتابتون ته لاس رسی .
- ✓ دکتابتون لپاره ډیټابیس جوړول.
- ✓ دساحوي څېړنې لپاره لازم چمتو والی.
- ✓ په نویو الکترونیکي وسایلو سره ددرسي میتودونو برابرول .
- ✓ دبېلابېلو ګرځدودنو دپېژندلو لپاره دمناسبولارو ټاکل .
- ✓ دځانګې په کچه دیوه منظم کتلاک جوړول.
- ✓ دځانګې په کچه د یوې رسمي پاڼې د باور او پرمختګ چارې .

**فعالیتونه**

دځانګې دآمریت له خوا دپورته ذکرشویو اهدافو دپیلي کولو او ترلاس کولو لپاره لاندې فعالیتونه په کار اچول کیږي .

- دځانګې له محصلینوڅخه یوه عمومي نظرغوښتنه .
- دځانګې له فارغ شویومحصلینوڅخه یوه عمومي نظرغوښتنه.
- دځانګې له استادانوڅخه یوه عمومي نظرغوښتنه .
- له استخدام شویو محصلینوڅخه یوه عمومي نظرغوښتنه.
- دهرسمسترپه پای کې د محصلینو دمها رتونو او درسي فعالیتونو یوه عمومي ارزونه .
- درسي مفرداتو دتطبیق په اړه له محصلینوسره وخت په وخت ځانګې دآمرلیدنه .

- د پلان جوړونې په اړه دځانګې له استادانو سره لازمې مشورې.
- ددرسي مفرداتو او هرمضمون داړتیا په اړه داستادانو مستند نظریات .
- دکریکولم اودرسي نصاب دتطبیق لپاره یوه منظم کمېټه ایجادول .
- دتعلیمي کال له پیل څخه دمخه اړین درسي شیان لکه کورس پالیسي . درسي نصاب اومفرداتو برابرول
- دسمسترپه پیل .وسط او پای کې دهرمضمون ددرسي پلان دتطبیق ارزونه
- داستادانو له د ارزونې له جریان څخه بشپړنظارت کول .
- محصلینو ته دتحقیقي پروژو لارښونه کول .
- دمحصلینودلازمومشورې له مخې دیوې منظمې نشراتی کمېټې ایجادول .
- دځانګې له لوري محصلینوته دفرهنګي، علمي کارونو روحیه ورکول .
- دمحصلینوله لوري په دیوالونو دیوشمېر اړینو طرحواو نشریو نصب کول.
- دمونوګراف دموضوعاتو دتعین لپاره نوي عناوین ټاکل .
- دتکراري عناوینودمخینوي په اړه دځانګې دآمریت له خوا دیوه منظم ډیټابیس جوړول.
- دیوشمېر فرهنګي څېرو لپاره لمانځغونډه نیول.
- اطلاعاتواوکلتورریاست په مشوره دیوشمېراړینو ځېړنیزو پروژو لپاره پروپوزل جوړول .
- دسولې، ورولی، ملي پخلاینې، وحدت په اړه لازمه کنفرانس جوړول .
- محصلینوته د پښتوژبې دودې، پرمختګ اواهمیت په اړه دکنفرانس جوړولو روحیه ورکول.
- د p-H0D برنامې ته کال په اوږدوکې دیو استاد معرفي .
- دژبپوهنې دتحقیق په اړه کې یوه کمیټه جوړول.
- دیوشمېرتحقیقي پروژو دعملي کولو لپاره له علمي اوفرهنګي نهادونوسره لیدنه.
- ذیربط ادارو ته دمحصلینو معرفي کول.

**دځانګې ټولنیزرول په اړه**

له شکه پرته دهیواد په ګوټ کې پښتانه مېشته دي، په خپله خوږه پښتو ژبه سره خبرې کوي. نو دټولنې پرمختګ هم د افرادو په تحرک پورې تړاو لري. پښتوځانګه هم باید دټولنې په پرمختګ خپل رول بازي کړي، دټولنې په اصلاحي کې بهیرکې خپل ونډه واخلي او د راتلونکو پنځو کلونو په لړ کې دغه ډول برنامې تر لاس لاندې ولري.

- ✓ دهیواددښلاښېلوپوهنتونونوسره ددې ځانګې دمرستې اوهمکاریو روحیه .
- ✓ داطلاعاتواوکلتورله ریاست، له ښلاښېلو ادبي بهیرونو ، علمي اومدني ټولنو سره دځانګې بشپړې اړیکې.
- ✓ په ټولنه کې له ښلا ښېلو فرهنګي اومدني حرکتونوسره دځانګې اړیکې
- ✓ په ټولنه کې ددې ځانګې دعلمي فعالیتونو احساسول .
- ✓ له مدني او فرهنګي ټولنو سره په مناسب وخت ناسته او له هغوی سره دځانګې دعلمي فعالیتونو شریکول.
- ✓ دیو شمېرټولنیزوستونزودحل لپاره له روشنفکرانو ، علماو او مدني ټولنو له غړوسره لازمې مشورې کول .

- ✓ په رسنیواو نورو خپرونوکې دژبې دپرمختګ په اړه دځانګې داستادانو او مدني ټولنې دغړو ځانګړې ناستې
- ✓ دمعارف له تعلیمي نصاب څخه وخت پر وخت لیدنه او دهغه نظارت کول. .
- ✓ دمعارف په کچه د تقویتي مضامینو د جوړولو د پروسې ایجاد ول.

## دځانګې نړیوال رول اړه

پښتو ژبه دسیمې په ګڼو آسیایي هیوادونو لکه هند ، پاکستان او ګران هیواد افغانستان کې ویونکي لري او ډیره سلنه خلک وربانديې ګړیږي. ، په نړیواله کچه دمیډیا پرپاڼو لکه فیسبوک، مسنجر، وتساپ، آیمو، تلویزیون چټکې خپروني لري. دې ته ورته راډیویي برنامې لکه خبرونه، دتعلیمي پروژو خپرونې، ډرامې او فلمونه او نورې ګڼې خپرونې په نړیواله کچه ترسترګو کیږي. نو دهمدې وجې له مخې باید دپښتوژبې ارزښت په نړیواله کچه معرفي شي.

- ✓ په نړیواله کچه دپښتو میډیا لپاره دمحصلانو روزنه.
- ✓ په نړیواله کچه دپښتواسلامي فلمونو دجوړولو هڅې
- ✓ دیوه پښتو نړیوال ژورنال دشرایطو دپوره کولو هڅې
- ✓ دیوه پښتو نړیوال څیړنیز مرکز د ایجاد هڅې.
- ✓ په انلاین توګه دپښتو ژبې دپرمختګ لپاره هڅې .
- ✓ له نړیوالو پرمختلو ژبو څخه دعلمي مسایلو ژباړه.
- ✓ له پښتو ژبې څخه نړیوالو ژبو ته د ژباړې پروسه په کار اچول.
- ✓ په ځانګه کې دژباړې دعملي کولو روحیه ایجادول

# دریم څپرکی

پرمختګ، لومړیتوب او دمحیطي عواملو تحلیل

**لومړۍ شاخه – تدریس بهیر ته بشپړه پاملرنه**

داستراتیژیک پلان ترټولو اړینه شاخه تدریسي بهیرته بشپړ چمتووالی دی، چې دپنځوکلونو په اوږدو کې باید په عملي ډول سره ترسره شي.

- ✓ استادان باید دهرمضمون کورس پالیسۍ دخپل مهالویش سره سمه تطبیق کړي. که یې په تطبیق کې پاتې راشي، نوباید دلایل یې دسمسترپه راپور کې درج کړي.
- ✓ دمضمون هره موضوع باید دکلیدي کلیمو لرونکې وي.ټوله موضوع دیادو کلیمو پرمحور وڅرخیږي. که یې استاد په تطبیق کې پاتې راشي نو باید پرخپل درسي مېتود یې بشپړ تجدید نظر وکړي.
- ✓ استادان مکلف دي چې خپل درسي بهیر د SCL-OBE پرسیستم باندې ترتیب کړي، که یې په تطبیق کې پاتې راشي. دلایل یې د راپور په بڼه یې دڅانګې آمریت ته وړاندې کړي.
- ✓ استادان ددې خپل درسي بهیر په الکترونیکي وسایلو چمتوکړي، له یوه اړخه به درسي کیفیت لوړ او له بله اړخه به استادانو ته سهولت ایجاد شي.
- ✓ دمحصلانو لپاره د اړوند تدریسي مضمون لکچر نوټ برابرول.

**دتدریس په اړه دقوت ټکي .**

- ✓ په پښتوڅانګې دټولو استادانوتحصیل درجه دماستر«M0A» په کچه.
- ✓ دتدریس په اړه دټولو استادانو ځانګړې علاقه او پاملرنه.
- ✓ دټولو حاضرو محصلینو لپاره ددرسي ټولګیو شتون.
- ✓ دڅانګې په کچه دیوه کتابتون شتون.
- ✓ په الکترونیکي وسایلوسره دیوشمېرمضامینودرسي مېتودونوپلي کول.
- ✓ په مناسب وخت سره ټولګیوته داستادانو حاضرکیدل.
- ✓ دڅانګې دمحصلینواواستادانوله لوري دټولو اکاډمیکو اصولو منل

**د تدریس په پروسه کې دضعف ټکي**

- ✓ په څانګې دعلمي کادرونو کموالي .
- ✓ په معیاري ډول سره ددرسي ټولګیو نشتوالی .
- ✓ دانترنیټ او نورو لازمو څېړنیزوسایلو نشتوالی .
- ✓ دیو شمېر اړینو او لازمو درسي وسایل نشتوالی .
- ✓ د تدریس پرمهال یوشمېر نور خنډونه او ربړې

**دوهمه شاخه - څېړنيز بهير ته بشپړه پاملرنه**

دپښتوڅانګې استادانو ژمنه وکړه چې دهرتعليمي کال په اوږدو کې به دڅېړنيزو پروژو د بشپړلو لپاره چټک ګامونه اخلي..

✓ دپښتوڅانګې استادانو په پوره ډاډ سره ژمنه وکړه چې دتعليمي کال ترپايه پورې به يو علمي سيمينار چې علمي او ګټور موضوعات په کې نغښتي وي وړاندې کوي.

✓ دپښتوڅانګې استادانو په پوره ډاډ سره ژمنه وکړه چې دتعليمي کال ترپايه پورې به يو ورکشاپ چې دمحصلينو لپاره چې ګټور پريوځي وړاندې کوي.

✓ دڅانګې استادان ژمن دي چې د څېړنيزو پروژو دعملي کولو لپاره دساحوي تحقيق روشونه محصلينوته معرفي کړي

✓ استادانو ژمنه وکړه چې په هر ټولګي کې به دمحصلينو لپاره دکتابتوني تحقيق لارې چارې په منظم ترتيب ور وپيژني..

**دڅېړنې په اړه دقوت ټکي**

- ✓ په څانګې کې ديوشمېرتحقيقي پروژو ويش او دهغه په اړه څانګړې علاقه .
- ✓ دڅانګې د استادانوله خوا دتحقيقي کارونو دعملي کولو بشپړه توانايي .
- ✓ دلوړو زده کړو دوزارت له لوري دڅېړنيزو کارونودتطبيق ژمنه .
- ✓ ديوشمېرهغه تاريخي ژبوڅېړنه، چې زمونږ له ژبې سره تاريخي اړيکې لري .
- ✓ دڅانګې له خوا دادبياتو دبېلابېلو دورو دتکامل او پرمختګ دڅېړنې د پروژې ويشل.

**دڅېړنې په اړه دضعف کې**

- ✓ ديوه منظوم کتابتون نشتوالي، البته هغه کتابتون چې استادانو دڅېړنې داړتيا وړ مواد په کې وي .
- ✓ دنويو او پرمختلو اډيشنونو نشتوالی، چې له استادانو او محصلينوسره دڅېړنې په وخت کې مرسته کولای شي .
- ✓ دڅانګې داستادانو لپاره دکافي انترنت نشتوالی.
- ✓ دښې زده کړې اوکافي تجربې دترلاس کولو لپاره بهرينو هيوادونوته داستادانو نه ليږل .
- ✓ بشپړې څېړنې دميتودولوژې په اړه د لازمو ورکشاپونو نشتوالی .
- ✓ ديوې څېړنيزې پروژې دانجام لپاره د لازمې بودجې نشتون چې دڅېړنې پروسه له خنډونو سره مخ کوي
- ✓ په دوامداره توګه د برښنا او انټرنيټ پريکيدل.
- ✓ دڅېړنې په بهير کې په نړيواله ژبه نه پوهيدل
- ✓ دعلمي مقالو د خپريدلو پرمهال نړيوالو ژورنالونو ته داستادان نه لاس رسی
- ✓ نبود منابع مالی جهت تأمين فعاليت‌های تحقيقاتی و ساير امکانات زيربنايی؛
- ✓ داستادانو لپاره د مناسب استوګنځي نشتون
- ✓ له خصوصي سکتور سره دغه څانګې نه اړيکې

**پالیسي**

دڅبواوادبیاتودپوهنځي پښتوڅانگه دیو شمېرموجوده امکاناتوپه صورت کې لاندې پالیسي  تعقیبوي.

- ✓ دڅانگې استادان باید دلوړو علمي درجو لرونکي شي، څودرسي میتودونه  گټوړه اغېزه ولري .
- ✓ دڅانگې فزیکي بنه باید د اړینو وسایلو او تجهیزاتو په اړه بشپړ پرمختگ وکړي .
- ✓ په ټولنه کې په ملي کچه دڅانگې اهمیت او ارزښت دروښانولو هڅې
- ✓ په تدریسي او څېړنیزو برخو نویو پرمختگونه او اړینې لارې اختیارول .
- ✓ ټولنې ته لایقو محصلینو معرفي کول .

**دعلمي کادرونودغړو پالیسي .**

- ✓ ددرسي نصاب دتطبیق لپاره یوه صلاحیت لرونکې کمېټه جوړول .
- ✓ دڅانگې داستادانو لپاره دلوړو تحصیلاتو دامکانانو دبرابرول لارې چارې لټول .
- ✓ دمحصلینو دښې هڅونې لپاره دیو شمېر دیوالي پوسټرونو نصب کول.
- ✓ په شمېر نړیوالو کنفرانسونوکې داستادانو گډون .
- ✓ دیوشمېرڅېړنیزو پروژو تطبیقول .
- ✓ دلېمضامینو تدریس کول، څو درسي کیفیت موثر واقع شي.

**دڅانگې دفزیکي فضا په اړه پالیسي .**

- ✓ موجوده تدریسي ستونزو ته دتوان ترکچه رسیدنه .
- ✓ دیوه معیاراداري دفتر جوړول .
- ✓ دمعیاري صنفونو جوړول البته دوسایلو او تجهیزاتو له مخې .
- ✓ څانگه په نویوتکنالوژیکو وسایلوسره سمبال کول .
- ✓ دڅانگې داړتیا لپاره دیوشمېراړینو منابع پیداکول .
- ✓ دټولنې دشمېر ستونزو لپاره ددې څانگې داستادانو لازمې مشورې برابرول .
- ✓ په تخصصي ډول سره دڅانگې پرمختگ،
- ✓ څانگې ته دیوشمېر تخصصي اشخاص بلنه، څودرسي میتودونو لپاره سالمې مشورې وړاندې کړي .

**دڅېړنیزې غوښتنې پالیسي**

- ✓ څېړنیزو غوښتنوته یوه څانگړې پاملرنه .
- ✓ دوخت داړتیاوو او غوښتنو مطابق یو منظم نصاب جوړول .
- ✓ داستادانو او محصلینو څېړنیزو کارونو ته انکشاف ورکول .
- ✓ دڅانگې په کچه دیوې تحقیقاتي شعبې جوړول .

**دتدریسي فعالیتونودنوښت پالیسي .**

- ✓ پرهدف ولاړمیتودغوره کول او دهغوي پایلې لیدنه
- ✓ دمحصل محوري میتود غوره کول اوهغه ته انکشاف ورکول .
- ✓ محصلینوته دیو شمېر عملي کارونو سپارل، څو دوي دلیکوالي له اصولو سره آشنا شي .

دمحصلینو لپاره دښې روحي دغوره کول پالیسي .

- ✓ دمحصلینولپاره دښې لارښونې او مدیریت لارې غوره کول .
- ✓ دلایقو محصلینو تشویق.
- ✓ دمحصلینوترمنځ داسلامي اخلاقو او فرهنګ عملي کول
- ✓ دمحصلینوترمنځ دورورلۍ اووحدت ځانګړنې روحیه خپرول .
- ✓ دمحصلینوترمنځ دیولړڅېړنیزکارونو ایجادول .
- ✓ دیوه درست او منظم ادبي بهیرانکشاف او دوام .
- ✓ دمحصلینوترمنځ دیوه کره کتنیزمرکز فعال کول، چې وخت په وخت په کې دکره کتنه سالمه پروسه او روحیه ایجاد شي .

**دپوهې دپرمختګ پالیسي .**

- ✓ د علمي کادرونواومحصلینو دتشویق او هڅونې یوه منظم پروسه په کار اچول .
- ✓ دبنسټیزو علمي او څېړنیزو پروژو په اړه اړین ګامونه پورته کول .
- ✓ داستادانو او محصلینو په ګډه مشوره دفرهنګي کارونو پلي کول .
- ✓ دیوشمېرعلمی کارونو نهادینه کول او دهغه په اړه عملي ګامونه پورته کول .

تضمین او کیفیت دمیکانیزم پالیسي

- ✓ دتدریسي برنامو دلوړولو لپاره لازمې لارې غوره کول .
- ✓ نویو علمي منابع ته لاس رسی او له هغه څخه په بشپړه توګه استفاده کول .
- ✓ دفارغ شویو محصلینوڅخه ددرسي کیفیت دلوړو په اړه لازمې پوښتنې اومشورې

**فرصتونه .**

**تحصیل په اړه**

- ✓ په تخصصي ډول سره دوړ افرادواستخدام کول او دتحصیل په اړه دیوې قوي روحیې ایجادول.
- ✓ دمحصلینوپه اړه دلوړو تحصیلاتوعلاقمندي .
- ✓ دتحصیلي بورسیوموجودیت جلب کول.
- ✓ په قوي، فصحه ژبه سره دپرمختلولکچرنوټونو موجودیت .
- ✓ په تحصیلي چارو کې له الکترونیکي وسایلو څخه داخیستلو دروحیې ایجادول .

**دښېړنې په اړه**

- ✓ دادبياتو، کلتور، ګړدودونو دښېړنې او پرمختګ په اړه دلازمو لارو او چارو دپېژندلو اړتياوې .
- ✓ دولايتونو او ولسواليوپه کچه دمناسبه څېړنيزې زمينې برا برول .
- ✓ په ملي کچه ديوې بشپړې اوقوي تحقيقاتي، علمي انګيزې ايجادول .
- ✓ ديوشمېراړينوپروژو دښېړنې له لومړيتوب .

**محدويتونه**

**تحصيل په پروسه کې محدويتونه.**

- ✓ ددې څانګې دعلمي کارونودپرمختګ لپاره دمناسبې بودجې نشتوالی .
- ✓ ديوشمېرعلمي اواکاډميکوکارونودطي مراحلو لپاره ديومنظم پروسيجر نشتون .
- ✓ دلوړو زده کړوپه علمي بنستونوکې ديو متمرکزسيستم نه موجوديت .
- ✓ دهيوادپه ټولوپوهنتونونوکې ديو منظم، مناسب او بشپړه تعليمي نصاب نه تطبيق کول .
- ✓ ديوشمېرڅېړنيزو پروژو دعملي کولو لپاره داخلي اوخارجي موسسواو نهادونو سره نه اړيکې .

**دښېړنې په کې پروسه محدويتونه .**

- ✓ داستادانولپاره ديو عصري اومډرن څېړنيزمرکزنشتوالی .
- ✓ دتحقيقاتي پروژو دپلي کولو لپاره دمناسبې بودجې نشتون .
- ✓ دڅانګې په سطحه ديوې پوهنيزې مجلې نه خپرول اودهغه لپاره لازمې بودجې نشتون .
- ✓ په څانګې کې دڅېړنيزو کارونو دترسره کولولپاره دالکتيزونيکي وسايلو نشتون .

**۵-۳ د SWOT په مېتود سره دمحيطي عواملو تحليل**

دڅانګې دستادانو، فارغانو، محصلانو او استخدام شويو کسانو له نظرغوښتنو او ارزونې ، تجزيې او تحليل وروسته دقوت او ضعف ټکي د څانګې د کورنيومحيطي عواملو په توګه ، فرصتونه او محدويتونه د بهرنيو محيطي عواملو په توګه په نښه شو

| کورني محيطي عوامل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| داخلي عوامل | شماره | عواملو روښانه کول | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
| قوت ټکي | ۱ | په پښتوڅانګې دښولو استادانودتحصيل درجه دماسټر«MOA» په کچه. | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| | ۲ | دتدريس په اړه دښولو استادانو ځانګړې علاقه او پاملرنه. | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۳ | دښولو حاضرو محصلينو لپاره ددرسي ټولګيو شتون. | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| | ۴ | دڅانګې په کچه ديوه کتابتون شتون. | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۵ | په الکترونيکي وسايلوسره ديوشمېرمضامينودرسي مېتودونوپلي کول. | ۰,۰۴ | ۴ | ۰,۱۶ |
| | ۶ | په مناسب وخت سره ټولګيوته داستادانو حاضرکيدل. | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۷ | دڅانګې دمحصلينواواستادانوله لوري دښولو اکاډميکو اصولو | ۰,۰۴ | ۴ | ۰,۱۶ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | منل | | | |
| | ۸ | په پښتوځانګې دپوهنځي استادانودتحصیل درجه دماستر«MOA» په کچه | ۰,۰۴ | ۴ | ۰,۱۶ |
| | ۹ | دتدريس په اړه دپوهنځي استادانو ځانګړي علاقه او پاملرنه. | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۱۰ | دپوهنځي حاضرو محصلینو لپاره ددرسي ټولګیو شتون. | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| | ۱۱ | دپوهنځي په ادبي او فرهنګي ډګرکې دځانګې رول | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۱۲ | استادانو ټولنيزې اړیکې | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| | ۱۳ | په ټولنه کې فارغانو ټولنيز موقف | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۱۴ | له نورو ښستونو سره مرسته کول | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| ضعف ټکي | ۱۵ | د ځانګې په کچه دعلمي کادرونو کموالی . | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ |
| | ۱۶ | په معیاري ډول سره ددرسي ټولګیو نشتوالی . | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| | ۱۷ | دانترنيټ او نورو لازمو څيړنيزوسایلو نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۸ | دیو شمېر اړینو او لازمو درسي وسايل نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۹ | د تدريس پرمهال یوشمېر نور خنډونه او ربړې | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ |
| | ۲۰ | . د ځانګې په کچه دعلمي کتابونو نشتون | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ |
| | ۲۱ | په معیاري ډول سره ددرسي ټولګیو نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۱ | ۰,۰۳ |
| | ۲۲ | دانترنيټ او نورو لازمو څيړنيزوسایلو نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۲۳ | دیو شمېر اړینو او لازمو درسي وسايل نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۲۴ | داستادانو د تحقیقاتو لپاره دمالي امکاناتو نشتون | ۰,۰۳ | ۱ | ۰,۰۳ |
| | ۲۵ | نړیوالو ژورنالونو ته داستادانو نه لاس رسی | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ |
| | ۲۶ | له خصوصي سکتور سره محصلانو نه اړیکې | ۰,۰۲ | ۱ | ۰,۰۲ |
| | ۲۷ | داستادانو دامتيازاتو کموالی | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| | ۲۸ | بهرینوهيوادونو ته ظرفيت په موخه استادانو نه لیږل | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | | مجموعه | ۱ | | ۲,۷۹ |


له پورته جدول څخه ښکاريږي چې دژبواوادبیاتو دپوهنځي پښتوځانګه نمره دبهرینو محیطي عواملو له کنترول څخه ۲.۵ نمرې لوړه ده، دګراف دا حالت د پرمختګ ننبه ده.

| بهرني محیطي عوامل | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| داخلي عوامل | شماره | عواملو روښانه کول | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
| فرصتونه | ۱ | په تخصصي ډول سره دوړ افرادواستخدام کول | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ |
| | ۲ | دمحصلینوپه اړه دلوړو تحصیلاتوعلاقمندي . | ۰,۰۶ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۳ | دتحصیلي بورسیوموجودیت جلب کول. | ۰,۰۶ | ۳ | ۰,۱۸ |
| | ۴ | په قوي، فصحه ژبه سره دپرمختلولکچرنوتونو موجوديت | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ |
| | ۵ | په تحصيلي چارو کې له الکترونيکي وسایلو څخه داخیستلو دروحيي ایجادول. | ۰,۰۶ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۶ | دتحصیل په اړه دیوې قوي روحيي ایجادول. | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ |
| | ۷ | دادبیاتو، کلتور، ګردودونو دڅېړنې او پرمختګ په اړه دلازمو لارو او چارو دپېژندلو اړتياوې . | ۰,۰۶ | ۴ | ۰,۲۴ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۸ | دولایتونو او ولسوالیوپه کچه دمناسبه څېړنیزې زمینې برا برول . | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| | ۹ | په ملي کچه دیوې بشپړې اوقوي تحقیقاتي، علمي انگیزې ایجادول . | ۰,۰۶ | ۳ | ۰,۱۸ |
| | ۱۰ | دیوشمېر اړینوپروژو دڅېړنې له لومړیتوب . | ۰,۰۶ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۱۱ | دمحصلانو لپاره د ژباړې د یو ه مرکز فعالول | ۰,۰۶ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۱۲ | دتدریسي کیفیت په اړه د تقویتي نصاب جوړول . | ۰,۰۴ | ۳ | ۰,۱۲ |
| ضعفونه | ۱۳ | په تدارکاتي پروسه ځنډ | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| | ۱۴ | ددرسي کیفیت ټیټ گراف | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۵ | د تقویتي نصاب نه شتون | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۶ | دتدریس او تحقیق له پروسې د نورو سکتورنو او موسسو نه همکاري | ۰,۰۴ | ۱ | ۰,۰۴ |
| | ۱۷ | دڅانگې په کچه یو ه څېړنیز مرکز نشتون | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۸ | ددې څانگې دعلمي کارونودپرمختگ لپاره دمناسبې بودجې نشتوالی . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۱۹ | دعلمي اواکاډمیکو کارونودطی مراحلو لپاره دیومنظم پروسیجر نشتون . | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| | ۲۰ | دلوړو زده کړوپه علمي بنسټونوکې دیو متمرکزسیستم نه موجودیت . | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| | ۲۱ | دهیوادپه ټولوپوهنتونونوکې دیو منظم، مناسب او بشپړه تعلیمي نصاب نه تطبیق کول . | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰۶ |
| | ۲۲ | ✓ دیوشمېرڅېړنیزو پروژو دعملي کولو لپاره داخلي اوخارجي موسسواو نهادونو سره نه اړیکې . | ۰,۰۴ | ۱ | ۰,۰۴ |
| | | مـجمـو عـه | ۱ | | ۲,۹۲ |

له پورته جدول څخه ښکاریږي چې دژبواوادبیاتو دپوهنځي پښتوڅانگه نمره دکورنیو محیطي عواملو له کنترول څخه ۵,۲ نمرې لوړه ده، دگراف دا حالت د پرمختگ نښه ده.

**ماتريکس عواملو تحليل او د پرمختګ د موقعيت تعيين**




دکورنياو بهرنيومحيطي لاملونو ګراف لوړ ښکاري نو دهمدې وجې له مخې دژبو او ادبياتو دپوهنځي دپښتوځانګه له بحراني حالت څخه بهر ده په راتلونکي کلونو کې به ديوه ښه علمي بنسټ په توګه وپېژندل شي.

**۳-٦ لومړيتوبونه**

**۱-٦-۳ د اکاډميک او زده کړييزو چارو له نظام څخه بشپړ ملاتړ**

دژبواو ادبياتو دپوهنځي پښتوځانګه د اکاډميکو او زده کړييزو چارو له نظام څخه ملاتړ خپل لومړيتوب ګڼي او دهغه دپياوړتيا په موخه لاندې برنامې تر لاس لاندې لري.

- ✓ ددرسي نصاب پرمختګ دوخت له غوښتنوسره برابر.
- ✓ له نويو ايډشنونو او منابع څخه استفاده ترڅو درسي بهير دبرياء په لوري حرکت وکړي.
- ✓ (محصل محوری او پرپايله ولاړه زده کړه دمېتود بنسټيزکول.
- ✓ د تدريسي بهير په لړ کې له تکنالوژيکو وسايلو څخه استفاده کول.
- ✓ داستادانو دظرفيت د لوړاوي په موخه لازمه ګامونه اخيستل .

**۲-۳-٦ تر لاس لاندې پرمختيايي برنامې**

**۱- ديو ه باب تعمير جوړول.**

دژبو اوادبياتو دپوهنځي پښتوځانګه دپنځو راتکونکو کلونو په لړ کې پلان لري ترڅو دمحصلانو دعلمي تقويې په موخه کتابتون او دکميتوتړي زده کړې مرکز ايجاد کړي نو په همدې وجه ديوه معياري تعمير دجوړولو چارې له اړونده اداراتو سره شريکې کړې دي.

**۲- ديو ه زينتي پارک جوړول .**

دژبو او ادبياتو دپوهنځی پښتو ځانګه دچاپيريال دپاک ساتنې په موخه غواړي د پنځو کلونو په اوږدو کې يو زينتي پارک چې ګڼ بوټي، ګلان او ونې په کې شاملې وي جوړ کړي. دا کار د هوا دپاکوالي او اقليم په بدلون کې مهم او کټور پريوځي .

**۳-٦-۳ لوړو زده کړو ته زمینه برابرول.**

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتوځانګه دلوړو زده کړو د وزارت په چوکاټ کې د یوه علمي نهاد په توګه فعالیت لري.دغه ځانګه غواړي دمحصلانو په جذب او اکاډمیکه روزنه کې خپله فعاله ونډه ولري.او د آسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره چټک ګامونه واخلي. په همدې ترتیب کولای شو داکاډمیکې روزنې لپاره دوه فعالیتونه په کار واچوه .

- دنویو او مسلکي استادانو جذب

- په تحصیلي رشته کې د نویو ځانګو ایجادول . دا کار د درسي کیفیت د لوړ والی لامل کیږي.

**۱-٦-۳ په ښه حکومتولۍ کې ونډه اخیستل**

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتوځانګه غواړي چې ورسپارل شوي مسولیتونه په احسنه توګه انجام کړي، ټولو علمي او اداري چارو ته د رسیدګی په موخه لاندې برنامه ترلاسه لاندې لري .

۱- دځانګې د آمر او محصلانو په وسیله داستادان خودي ارزونه او دهغه راپور ورکول ، دا کار د استادانو له درسي روش او مېتود سره بشپړه مرسته کولای شي،

۲- له محصلانو او فارغانو څخه درسي نصاب د محتویاتو، زده کړې او علمي فعالیتونو په اړه یوه عمومي نظر غوښتنه ترڅو خپلو تشو او ستونزو آمادګي او چمتووالی ونیسو.

۳- د ځانګې له استادانو څخه ددرسي مفرداتو،دمضامینو کریډیتونو او دتدریسي مضامینو په اړه نظرغوښتنه او مشوره کول .

۴- میاشتنۍ، کلنۍ او دهرسمستېر په آخر کې ارزونه کول .ترڅو دتطبیقي پلان څخه دپرمختګ پایلې تشخیص او ښکاره شي.

۵- دمحصلانو شکایتونو ته رسیدنه . البته دځانګې په کچه یو کوچنی دشکایتونو صندوق موجود دی.

**۱۰- د لوا یحو او قوانینو تطبیق**

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتوځانګه په بشپړ ډول سره ټولو دولتي قوانینو، لوایحو او مقرراتو ته ژمنه ده .ګام پرګام یې دکارونو دشفافیت او عدالت د تطبیق په موخه دغه قوانین عملي کړي دي، وخت پروخت یې دځانګې له خوا پوره څارنه کیږي.

**۱۱- د شفافیت تطبیق**

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتو ځانګه غواړي دکارونو دشفافیت پروسه ترسره کړي ،څکه له دې لارې حق خپل حقدار ته سپارل کیږي په همدې ترتیب سره کارونه ښه پر مخ بیول کیږي. د کارونو شفافیت تطبیقول اهدافو ته رسیدو لامل کیږي .

## څلورم څپرکی
## پرمختګونه

### ٤-١ په تدریسي بهیرکې له نوې تکنالوژۍ څخه استفاده.

### ۴-۱-۱ داستادانو د ظرفیت لوړوالی

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي دپښتوځانګې په عملیاتي پلان کې د استادانو د ارتقاء او ظرفیت په موخه یوه ځانګړنې برنامه موجوده ده،چې تطبیق یې د استادانو په علمي ظرفیت کې خورا ګټور دی.

په ذکر علمیاتي پلان د استادانو لپاره هغه مېتودونه پیشنهاد شوي چې اوسمهال په نړیواله کچه په تدریسي بهیرکې جریان لري. اودوخت په تېریدو سره داستادانو په علمي ظرفیت کې ګټور واقع کېږي

دغه پلان درې برخې لري چې داستادانو علمي ظرفیت لوړول، دکتابتون څخه د استفادې میکانیزم ور کې شامل دي .

- ✓ د استادنو لپاره د ارتقاء انکشاف او پرمختګ بورسونه برابرول.
- ✓ دنویو تدریسي مېتودونو د زده کړې په موخه لنډمهاله ورکشاپونو ته داستادانو معرفي کول .
- ✓ د اس.تادانو ترمنځ د تجربو په موخه د ورکشاپونو دایرول

### ۴-۱-۲ تدریس او ارزونه

- ✓ د تدریسي ، تخصصي تجربې له مخې دمضامینو توزیع
- ✓ په پرله پسې توګه د خودي ارزونې تطبیق استاداو او محصلانو ته یې فیدبک ورکول.
- ✓ په موقع سره د ازموینې اخیستل.

### ۴-۱-۳ په تدریسي بهیرکې له نوې تکنالوژۍ څخه استفاده.

- ✓ په تدریسي ټولګیو کې (Projector) او LCD نصب کول.
- ✓ دتدریسي مضامینود ارایه کولو لپاره له الکترونیکي وسایلوڅخه استفاده کول .
- ✓ رهنمایی دانشجویان به استفاده از انترنت در مطالعه و تحقیق؛
- ✓ به کارگیری برنامه‌های انترنتی در تحقیقات ساحوی و کتاب‌خانه‌یی استادان؛
- ✓ په تحصیلي رشتوکې د منابع د موندنې لپاره له انترتیت څخه استفاده کول.
- ✓ په بیړنی حالت کې د آنلاین درسونو او ټولګیو ترتیبول .

### - ۳-۱-۴ ورکشاپونه دایرول.

د څېړنیزو کارونو په موخه له دولتي او خصوصي سکتور سره په ګډه همکارۍ د ورکشاپونو دایرول، ترڅوڅېړنیز بهیر لا ګړندی شي.

### ٤-۳ مالي او اداري پرمختګونه

دهرعلمي بنسټ د پرمختګ او انکشاف لپاره مالي برنامه اړینه خبره دا څکه چې د پرمختګ او لاسته راوړنې لپاره مالي او اداري طرحې باید شتون ولري. د ژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتو ځانګه هڅه لري، ترڅو په مستقیم او غیرمستقیم ډول سره دمالي پرمختګ لارې ولتوي.

**٤-٤ له فساد سره مبارزه**

دښې حکومتولي په موخه د ژبو او ادبياتو دپوهنځي پښتوځانگه وياړي ترڅو د ځانگې په کچه له ډول مالي، ژبني، قومي، اداري او اکاډميک فساد سره مبارزه وکړي.څو دمحصلانو او استادانو ترمنځ دښه شفافيت او کارکړنې انگيزه ايجاد شي. دغه ځانگه د دومدانر څار لپاره له لاندې شيانو مبارزه کوي.

- ✓ د استادانو تقرر او انفکاک .
- ✓ د استادانو علميترفيعات
- ✓ د حاضري او درسي ټولگيو کنترول
- ✓ دمحصلانو شکايتونو ته رسيدنه

- **دمحصلانو لپاره کار موندنه**

ژبو او ادبياتو دپوهنځي پښتوځانگه له دولتي او غيردولتي سکتورونو سره اړيکه لري ترڅو مسلکي او په کارپوه محصلانو د کارکولو لپاره جذب کړي.

- **ارتقای مهارت محصلان**
- عبارت از کورس‌ها، ترجمه عملی، نوشتاری عملی و تحقیق می‌باشد که باید صورت گیرد.
- **د محصلانو فرهنگي او سپورتي فعاليتونه**
- دژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتو ځانگه د محصلانو لپاره د اونيزبهير، آزاده مشاعره ، ادبي کره کتنه او نورې علمي برنامې فعالول په پلان کې لري.دې ته ورته د محصلانو ترمنځ د سپورتي لوبو د ترتيب ولو لارې هم په خپل مهالويش کې ځای لري.

**٤-٦ د عوايدو ترلاسه کول (کسب عوايد)**

هره اداره دوخت په تېريدو سره پرمختگ کوي او د گڼو فعاليتونو په پايله کې خود کفايي حالت ته رسيږي.. اگرچې پوهنتون ادراه يو ه مصرفي اداره ده، خو بيا دهيواد په کچه ل د اړوند وزارت لپاره خپل عوايد لري. پښتوځانگې د عوايد دموندلو لپاره څو طرحې وړاندې کړي دي.

- ✓ له ځينو خيريه بنسټونو سره ددې ځانگې اړيکې البته ديوشمېر درسي وسايلو د اړتياؤ د پوره کولو په موخه ترڅو له د لارې يوه کمه سلنه عوايد ترتيب شي.
- ✓ له غيردولتي موسسو سره دپښتوځانگې اړيکې ټينگ ول البته ديو شمېرڅېړنيزو پروژو د اخيستنې په موخه، ترڅو يو ه کمه سلنه عوايد له د لارې راغونډ شي.
- ✓ ولسي انگيزه . موخه دا چې قومي مشرانو، مخور سپين ږيرو او شتمنو خلکو ته دپښتو ژبه ارزښت او دپرمختگ انگيزه ورکړل شي، څو دهمکارۍ، تعاون او عوايدو دغونډولو لار پرانستل شي.او له د لارې يوه سلنه عوايد را غونډ شي.
- ✓ له خصوصي سکتور سره دتفاهم نامې لاسليک کول، ډير وخته خصوصي سکتور استادان د تعليمي پروگرامو د ترينگ په موخه جلب وي. که استاد دځانگې په موافقه معرفي شي ممکن يو برخه عوايد ځانگې ته جلب کړي.

- ✓ له کتابخانې څخه دیوې سلنې عوایدو را ټولونه
- ✓ په څانگه کې دمحصلانو د فراغت دستاینلیکونه د چاپ له لارې د یوې سلنې عوایدو راټولونه

**د خطرونو  او پېښو مدیریت**

د ژبو او ادبیاتو دپوهنځي پښتو څانگه وياړي ترڅوذ تفاهم لیک له مخې له گڼو نورو دولتي ادارو سره خپلې اړیکې دایمي وساتي .د ضرورت پر وخت ترې استفاده وکړي.

- ✓ له عامې روغتیا سره اړیکه ترڅو اولیه کومکونه په اړه زمونږ څانگې ته ترینگ ور کړي.
- ✓ له اطفایې ریاست سره ترڅو د خطرو او پېښو په اړه یو ورځنی ورکشاپ  دایر کړي.

## پینځم څپرکی

## اهداف او لنډ مهاله برنامې

**۵-۱ د استادانو د ارتقاء او ظرفیت**

د ژبو او ادبیاتو دپوهنځي دپښتوځانګې د استادانو د ارتقاء او علمي ظرفیت د لوړاوي لپاره یو لړ امکاناتو ته او شیاتو ته اړتیا لیدل کیږي.

۱- په درسته بڼه د استادانو د مسلکي او تعلیمي مېتودونو د زده کړې لپاره ورکشاپونه نیول.

۲-د هرسمیستر ترپیل دمخه د استادانو لپاره دمعاصرو متېودونو د زده کړې پرله پسې ورکشاپونه نیول .

۳-د استادانو د څېړنیزو پروژو د عملي کولو لباره په کافي اندازه انټرنیت درلودل.

۴-د استادانو لپاره له هیواد بهر دمېتودلوژي ،تحقیق په برخه کې د لنډمهاله ورکشاپونه نیول، څو استادان د نورو هیوادونو له څېړنیزو روشونو څخه په بشپړ ډول برخمن شي.

۵-د استادانو لپاره له هیواد بهر د دوکتورا او ماسټري په کچه دسکالرشیپونو برابرول ،څو د استادانو علمي ظرفیت لوړ او تدریسي بهیر ښه پایله ومومي.

٦- د استادانو د رواني او ذهني ستونزو د لیرې کولو لپاره دکال په اوږدو کې یو ورکشاپ نیول،څو د تدریس پرمهال د استادانو د آرامی سبب وګرځي.

۷- داستادانو لپاره د ارزونې، ازموینې او سوالونو د جوړولو لپاره ورکشاپ نیول.

۸-دځانګې په کچه دیو څېړنیز مرکز ایجادول.

۹-دځانګې په کچه د ژباړې دیو مرکز ایجادول.

**۵-۳ د کتابتون تجهیز**

دژبو او ادبیاتو دپوهنځي د پښتوځانګې د کتابتون دتجهیز او پرمختګ په موخه لاندې وړاندیزونه اړوندې ادارې ته لیږل شوي

۱-دکتابتون لپاره د یجیټل جوړونې سیسټم په فعالول ،ترڅو ټول کتابونه په کې ثبت او ډیټابیس شي.

۲-دکتابتون د هرې برخې دکتابونو لپاره د ډیټابیس جوړولو وسایل برابرول.

۳-په معیاري ډول سره دکتابتون جوړول..

**۵-۴ دمحصلانو لپاره اونیز بهیر جوړول.**

دژبواوادبیاتودپوهنځي پښتوځانګې اوه کلونه (۷) وړاندې د محصلانو لپاره اونیزبهیر ایجاد کړ،دابهیرپه ګڼوبرخو له آزاده مشاعره، دکتابونو مخ کتنه ، طنزجوړول او کره کتنې به برخه کې خپل فعالیتونه لري.چې دمحصلانو په مسلکي روزنه کې بشپړ رول لري.

پښتوځانګه ویاړي چې دا بهیر روان وساتي او خپل فعالیتونه نور هم چټک کړي.د داستان لیکنې، هنري لیکنې او مسلکي ژباړې برخې په کې فعاله کړي.

**شپږخپرکی**

**دځانګې اداري پرمختګ**

دژبو اوادبیاتو پوهنځی پښتوځانګه ویاړي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې اداري پرمختګونه او توسعه هم ولري.دغه ځانګه غواړي چې په لاندې برخو کې اداري توسعه اوپرمختګ وکړي.

**په علمي ډګر کې**

- ✓ داکاډمیکواو کادري بستونو د جذب کولو وړاندیز.
- ✓ دکادري بستونو د ازموینې د اخیستلو وړاندیز څکه پښتوځانګې دا شریط پوره کړي دي.
- ✓ د دکتورا ترکچې د استادانو دعلمي درجه لوړول.
- ✓ دژبپوهنې د برخه کې دمسلکي استادانو د جذب کولو وړاندیز.

**په اداري ډګر کې**

- ✓ دځانګې دکتابتون برابرولو او مدیریت لپاره یوه کارمند د بست وړاندیز.
- ✓ دمونوګرافونو او استادانو دتحصیلي سوابقو دډیټابیس کولو لپاره د یوه کارمندد جذب وړاندیز.
- ✓ د ځانګې اړینو کارونو لپاره دځانګړې بودجې وړاندیز.
- ✓ **په خدماتي ډګر کې**
- ✓ دځانګې د اداري کارونو دپرمختګ او ګړندیتوب په موخه د یوه خدماتي کارمند دجذب وړاندیز.
- ✓ دمحصلانو د تفریح لپاره د پارک دجوړولو وړاندیز.
- ✓ دځانګې په کچه د یوه کوچیني روغتیایي کلینک د جوړولو وړاندیز.

دژبو اوادبیاتو دپوهنځي دپښتوځانګې د راتکونکو پنځوکلونو تشکیل.

| فعالیتونه | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو تعداد | ۷ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | |
| دجدیدالشمول محصلانو تعداد | ۹۰ | ۱۰۰ | ۱۲۰ | ۱۵۰ | ۲۰۰ | |
| دمسلکي برخو ویش | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | |
| کارمندانو تعداد | / | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | |
| دخدماتي کارکونکوتعداد | / | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | |

## اوم څپرکی

### د استراتیژیک  پلان ارزونه، نظارت،تطبیق او تدوین مېتود

دژبو اوادبیاتو دپوهنځي پښتوڅانګې دخپل پنځه کلن استراتیژیک پلان دجوړولو لپاره د ۱۴۰۱ لمریزکال په پاي کې یوه کمېټه وټاکله،چې په ترکیب کې یې دڅانګې لوړ رتبه استادان شامل وو. داستراتیژیک پلان دغه کمېټې په پرله پسې توګه ناستې وکړې ترڅو د استراتیژیک پلان د جوړولو لپاره یو په زړه پورې میکانیزم ایجاد کړي.

نوموړې کمېټې دخپلې  غونډې  په پایله کې د استراتیژیک پلان اړتیاء احساس کړه او نظرغوښتنې په موخه یې ګڼو دولتي ادارو ته فورمې توزیع کړې. څو د استراتیژیک پلان اړتیا په پوره ډول سره تشخیص شي.ترڅنګ یې فارغانو، استخدام کوونکواو محصلانو ته هم دنظرغوښتنې په توګه فورمې وویشل شوې.د ټولو نظرپوښتنو وروسته ستونزې، تشې، نظریات  او تېرو کلونو ربړې هم په دغه استراتیژیک پلان کې ترتیب شوې دي.

دغه کمېټې د استراتیژیک پلان اهداف، علمي برنامې، فعالیتونه، لیدلوري، ماموریت او ارزښتونه په منظم ډول په استراتیژیک پلان کې ځای کړي دي.

د ډاډ او اطمینان به موخه به دا استراتیژیک پلان د پنځو کلونو په اوږدو کې دعملیاتي، تطبیقي اونورو اړوندو پلانونو په مرسته نظارت او وڅارل شي.

**پایه**

دتخارپوهنتون دژبو اوادبیاتو دپوهنځي دپښتوڅانگې پنځه کلن استراتیژیک په اوو څپرکیواودپایلې سره مل دپلان جوړونې د کمېټې له لوري ترتیب شوی.چې ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۰۱ لمریزکال دڅانگې دعلمي شورا له لوري د رایو په اتفاق سره تاییدشو.

په دغه پلان کې گڼې علمي ،تحقیقي او اکاډمیکې برنامې ترتیب شوې ،چې دپنځو کلونوپه اوږو کې به عملي او تطبیق کیږي.

پورته ترتیب شوی استراتیژیک پلان د څانگې له تاییدي وروسته دپوهنځي دپلان جوړونې کمېټه ته ولیږل شو. ترلیدنه او بررسي وروسته ددې کمېټې له لوري هم تاییدشو.په همدې ترتیپ د ژبو او ادبیاتو دپوهنځي د علمي شورا له لوري هم د رایو په اتفاف تایید او تصویب شو.

**منابع**


۱. دتخار پوهنتون استراتیژیک کال ۱۳۹۷ تر ۱۴۰۱،

۲. دژبو اوادبیاتو دپوهنځي استراتیژیک پلان کال ۱۳۹۷ تر ۱۴۰۱،

۴. داستادانو، محصلانو، فارغانو، استخدام کوونکو او اړوندو ادارو نظریات .


**ضمایم**

پښتو څانګه هم دکال په اوږو کې یو شمېر اړین تجهیزاتو ته اړتیا لري، دا مصارف باید دکال په اوږدو کې وسنجول شي.

**۱۴۰۲ لمریز کال د ژبو او ادبیاتو دپوهنځي دپښتو څانګې مالي پلان**

| | د استادانو دامتیازاتو پلان (له عادي بودجې پرته مصارفات) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | نوم او علمي رتبه | تخلص | تحصیلي درجې امتیاز | علمي رتبې امتیاز | ماکول | د بست امتیاز | دمیاشتې مبلغ | دکال مبلغ |
| ۱ | پوهنوال سیدعمر | صدیقی | ۲۰۰۰ | ۳۳۰۰۰ | ۶۶۰ | ۷۰۰۰ | ۴۲۶۶۰ | ۵۱۱۹۲۰ |
| ۲ | پوهندوی خان محمد | عزیزی | ۲۰۰۰ | ۲۷۰۰۰ | ۶۶۰ | ۷۰۰۰ | ۳۶۶۶۰ | ۴۳۹۹۲۰ |
| ۳ | پوهندوی سید کاظم | شهیدخیل | ۲۰۰۰ | ۲۷۰۰۰ | ۶۶۰ | ۱۳۰۰۰ | ۴۲۶۶۰ | ۵۱۱۹۲۰ |
| ۴ | پوهنیار محمد نظیر | روحانی | ۲۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۶۶۰ | ۷۰۰۰ | ۲۷۶۶۰ | ۳۳۱۹۲۰ |
| ۵ | پوهنیار محمد اعظم | عمری | ۲۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۶۶۰ | ۷۰۰۰ | ۲۷۶۶۰ | ۳۳۱۹۲۰ |
| ٦ | پوهنیار محمد کبیر | هوتک | ۲۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۶۶۰ | ۱۶۶۰۰ | ۳۷۲۶۰ | ۴۴۷۱۲۰ |
| ۷ | پوهنیار عبدالحلیم | عثمانی | ۲۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۶۶۰ | ۷۰۰۰ | ۲۷۶۶۰ | ۳۳۱۹۲۰ |
| | | **مجموعه** | **۱۴۰۰۰** | **۱۵۹۰۰۰** | **۴۶۲۰** | **۶۴۶۰۰** | **۲۴۲۶۲۰** | **۲۹۰۶۶۴۰** |

| | |
|---|---|
| | **دتعمیر و تجهیزاتو د جوړولو مصارف (انکشافي بودجې مصارفات** |

| شماره | دپروژې نوم | لازمه بودجه | دجنس نوم | ټوله بودجه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تجهیزات | ۵۰۰۰۰ | LCD- | 50000 |
| ۲ | قرطاسیه | 15000 | دوسیې او نور اړین شیان | ۱۵۰۰۰ |
| ۳ | مجموعه | | | ٦۵۰۰۰ |

| شماره | تفصیلات | ۱۴۰۲ کال د فارغانو تعداد | قیمت فی | کلنۍ پیسې |
|---|---|---|---|---|
| | د ۱۴۰۲ لمریزکال دژبو او ادبیاتو دپوهنځي دپښتوڅانګې کلنۍ عایداتي پلان | | | |
| ۱ | د ترانسکریپټ عواید | ۲٦ | ۳۰۰ | ۷۸۰۰ |
| ۲ | دسرتفیکیټ عواید | ۲٦ | ۳۰۰ | ۷۸۰۰ |
| ۳ | ډیپلوم عواید | ۱۵ | ۱۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |
| | | | | |
| | په اوسط ډول سره دکلني عاید مجموعه | | | ۳۰٦۰۰ |

دغه استراتیژیک پلان دپښتو څانګې په (۱۴) نمبر پروتوکول اوتاریخي ۱۷/ ۱۲/ ۱۴۰۱ غونډه کې ثبت شو.

د څانګې د آمرلاسلیک دژبو او ادبیاتو پوهنځي د ریس لاسلیک